څوک چې مړ شو، پداسې حال کې چې د الله سره يې څه شی نه وي شريک کړی، جنت ته به داخل شي، او څوک چې مړ شو پداسې حال چې د الله تعالی سره څه شی شريک کړی وي اور ته به داخل شي

له جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې وايي: رسول الله - صلی الله عليه وسلم - ته يو سړی راغی او ويې ويل: اې د الله رسوله ؟ هغه کوم دوه خويونه دي چې په درلودلو سره يې انسان ته جنت يا دوزخ واجبيږي؟هغه وفرمايل: «څوک چې مړ شو، پداسې حال کې چې د الله سره يې څه شی نه وي شريک کړی، جنت ته به داخل شي، او څوک چې مړ شو پداسې حال چې د الله تعالی سره څه شی شريک کړی وي اور ته به داخل شي»

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه يو سړي د دوو خصلتونو په اړه پوښتنه وکړه: کوم چې د انسان لپاره جنت ته داخلېدل واجبوي، او کوم چې د انسان لپاره اور ته داخلېدل واجبوي؟ نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ځواب ورکړ: هغه صفت چې انسان ته جنت لازموي دا دی چې انسان په داسې حال کې مړ شي چې يوازې د يو الله عبادت کوي او له هغه سره يې هيڅ شرک نه وي کړی، او هغه صفت چې اور ته تلل لازموي دا دی چې انسان په داسې حال کې مړ شي چې له الله سره يې څه شريک کړی وي، داسې چې له الله تعالی سره يې شريک او هم مثل په الوهيت، ربوبيت، اسماء او صفاتو کې ګرځولی وي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65008